## د ماشومانو د خبرو کولو او ژبې د درملنې خدمت

د والدینو او پالونکو لپاره لارښوونې.

# عملي کلیمې کومې دي؟

عملي کلیمې له ماشومانو سره مرسته کوي تر څو هغه څه ووایي چې اړتیا ورته لري یا یې غواړي. ځینې ماشومان چې له نور سره په خبرو کولو کې ستونزه لري، کېدای شي د رنګونو، شمېرو او شکلونو لپاره یې کلیمې زده وي. هغوی همدارنګه کېدای شي د ژویو پر نومونو، د خوړو یا هغو شیانو پر نومونو پوه شي چې د هغوی خوښېږي.

والدین ځینې وختونه ماشومانو ته د شیانو نومونه ور زده کوي زده چې د شیانو نومونه زده کول مهم دي. مګر پر نومونو پوهېدل د ماشوم لپاره پر دې معنا نه دی چې هغه به وکولای شي دغه کلیمات د هغو شیانو لپاره وکارولای شي چې هغوی یې غواړي یا ورته اړتیا لري.

کله چې تاسو له ماشوم څخه پوښتئ چې دا څه شی دي، هغه ځواب درکړي چې دا "کېله" ده، نو دا په دې معنا نه ده چې کله هغه کېله غواړي، هرو مرو به د "کېلې" نوم اخیستلای شي، هغوی کلیمه په عملي توګه نشي کارولای.

### د عملي کلیمې یوه بېلګه دلته ده:

که چېرته ماشوم وایي: "شیدې راکړئ" عملي کلیمه "شیدې" دي.

که چېرته ماشوم یوازې ویل "راکړئ"، تاسو به نه پوهېدئ چې هغه څه غوښتل.

که چېرته ماشوم ویل چې "شیدې"، تاسو به پوهېدئ چې هغی د شیدو څښاک غوښته.

### څنګه له خپل ماشوم سره مرسته وکړئ تر څو پر عملي کلیماتو پوه شي

که چېرته ستاسو ماشوم تر اوسه کلیمې نه کاروئ، یا یوازې ځینې کلیمې کاروي، کېدای شي هغوی تاسو ته د بدن په ژبه، غږ، سترګو یا د څېرې په وسیله درته وایي چې هغوی څه غواړي. د بېلګې په توګه، کېدای شي هغوی هغه څه ته چې غواړي یې وګوري، اشاره ورته وکړي یا یو څه ته ورنږدې شي.

که تاسو پوهېږئ چې ماشوم مو څه غواړي، تاسو باید د هغه شي لپاره کلیمه وکاروئ. دې ته د عملي ژبې موډل کول ویل کېږي.

د بېلګې په توګه که چېرته هغوی کېلې ته اشاره، نو کله چې تاسو کېله را اخلئ او هغوی ته یې ورکوئ ووایئ چې "کېله". که هغوی تاسو ته پیاله درکوي، ووایئ چې "اوبه" یا "څښاک".

دغه د "کېله"، "پیاله" او "څښاک" کلیمې عملي کلیمې دي.

موډل کول له ماشوم سره مرسته کوي تر څو عملي کلیمې زده کړي ځکه چې دا له هغه څه سره سمون لري چې ستاسو ماشوم یې غواړي.

له ماشوم څخه مه غواړئ چې ستاسو خبرې کاپي کړي.